## د معالجوي طب پوهنځی پېژندنه:

د طب پوهنځی په 1393 کال کي رامنځ ته سوی او د معالجوي طب په برخه کي 12 سمستره او 48 اونۍ د ستاژ دوره لري، چي د ستاژ د دورې سره اووه کلونه په بر کي نیسي، یاده پوهنځی اوس مهال شاو خوا 958 تنه زده کړیالان او 51 تنه استادان لري. طب پوهنځی په خپل اداري تشکیل کي وخت په وخت د اړتیا په صورت کي د لوړو زده کړو وزارت د لارښوونو مطابق کمېټې ایجاد کړي دي، چي اوس مهال په نوموړې پوهنځی کي 6 فرعي کمېټې (د درسي نصاب او کریکولم د څار کمېټه، د ازموینو کمېټه، د نظم او دسپلین کمېټه، د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمېټه، د علمي څېړنو کمېټه، E. Learning کمېټه او یوه د پوهنتون په کچه (د کرونا وبا په وړاندي د مبارزې او مخنیوي کمېټه) فعالي دي.



## د ازموینې، ارزونې او حاضرۍ اصول:

د مضامینو ارزونې په لاندي تفکیک سره ترسره کېږي.

- د هر مضمون لپاره د کامیابۍ نمره (55٪) ده او همداراز په هر سمستر کي د (60٪) عمومي اوسط پوره کول لازمي ګڼل کېږي.
- صنفي ارزونې، کورنۍ کارونه، حاضري او صنفي فعالیتونه (20٪)
- منځنۍ ازموینه (20٪)
- وروستۍ ازموینه (60٪)
- په هغه مضامینو یا کورسونو کي چي عملي کارونو یا تطبیقاتو ته اړتیا نه لري، د نمرو ارزونه یې په حد اکثر ډول سره له (80٪) څخه محاسبه کېږي.
- په هر مضمون کي د حاضرۍ نصاب پوره کول حتمي دي، په درسي ساعتونو کي (75٪) حاضري پوره کول، په وروستۍ ازموینه کي د ګډون اساسي شرط دی.
- د مضمون د تطبیقاتو په ساعتونو کي له (25٪) څخه زیاته غیرحاضري د هغه مضمون د تطبیقاتو د نمرو د محرومیت سبب کېږي.



## زده کړه ایزې موخې:

- د معالجوي طب پوهنځی فارغان به لاندي وړتیاوي ولري: د طبابت اړوند علمي او مسلکي پوهه.
- د Para Clinic زده کړو وروسته د انسان د بدن ټول جوړښتونه او دندي په ښه ډول پېژندل.
- د Clinic برخي تر زده کړو وروسته د بدن د ټولو سیستمونو او عامو ناروغیو پېژندل، تشخیص او درملنه.
- په روغتونونو کي د تخصص پروګرامونو ته شمولیت.
- په طبي مسلکي ادارو کي د اداري چارو پر مخ وړل.
- له ناروغانو سره صله رحمي او د هغوی ستونزو ته لومړیتوب ورکول.
- د ماسترۍ او دوکتورا په کچه لوړي زده کړي کول.
- په دولتي او غیر دولتي روغتونونو او صحي مرکزونو کي د کار کولو وړتیا درلودل.
- د هیواد او نړۍ په کچه په طبي برنامو او ټرېنینګونو کي برخه اخیستل.
- په طبي برخه کي د څېړنو تر سره کول.
- د طبي مسلکي سیمینارونو دایرول او د هیواد او نړۍ په کچه په نورو طبي سیمینارونو کي برخه اخیستل.



بُست پوهنتون

BOST UNIVERSITY

معالجوي طب پوهنځی

FACULTY OF MEDICAL SCIENCE

# CONTACT US


Phone: +93 702 300 728

Email: md@bost.edu.af

Web: www.bost.edu.af

Address: Bost University Complex Lashkargah Helmand Afghanistan


## د طب پوهنځی لیرلید او ماموریت:

### لیرلید (Vision)

د بُست پوهنتون طب پوهنځی غواړي په نږدې راتلونکي کي د طبي معاصرو، علمي او څېړنیزو معیارونو پر بنسټ د طبي علمي څېړنو او مخکښه طبي کادرونو په وړاندي کولو سره د جنوب لوېدیځي حوزې او هیواد په کچه د طب مخکښه پوهنځی وګرځي.

### ماموریت (Mission)

د بُست پوهنتون طب پوهنځی د عصري او معیاري طبي تدریسي او علمي امکاناتو په برابرولو سره د ټولني د عصر د غوښتنو مطابق په تیوریکي او عملي مهارتونو سنبال باظرفیته فارغان او معیاري علمي څېړني وړاندي کوي، تر څو په دې برخه کي ټولني ته د ریښتیني خدمت مصدر وګرځي.

